**مطبوعاتي اعلامیه**

## له پاکستان تر فلسطینه... اې د مسلمانانو ځواکونو، د دې عصر صلاح الدین چېرته دی!؟

(ژباړه)

د ۲۰۲۴م کال د اګېسټ په ۱۱مه د پاکستان دولت د تېر پشان یو ځل بیا د غزې د نویو تړولوژنو په غبرګون کې د یوې اعلامیې په صادرولو ځان له مسولیته خلاص کړ. د ۲۰۲۴م کال د اګېسټ په ۱۰مه صهیونیستي رژیم د سهار لمانځه پر مهال پر هغو بېځایه شویو د توغندیو برید وکړ چې په یوه ښوونځي کې یې پناه اخیستې وه؛ د دغه برید په پایله کې تر سلو ډېر مسلمانان شهیدان شول. ډېری جسدونه نه پېژندل کېدل او د شهیدانو د بدن غړي په کڅوړو کې خښ شول.

خو د مسلمانانو د تر ټولو پیاوړي ځواک قوماندان، چې په څو ساعتونو کې د صهیونیستي اشغال ختمولو وړتیا لري، یوازې په دې خبره ځان له مسولیته خلاص کړ چې «له زړونو مو د وینو څاڅکي څاڅي». د یهودو پر هغو وحشتونو سربېره چې ټول اصول او اخلاق تر پښو لاندې کوي، د پوځ مشر د صهیونیستي رژیم پر وړاندې د نظامي اقدام مخه نیولې؛ ځکه چې د واشنګټن له امرونو پرته یو عملیات هم نه شي کولی. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿رَضُواْ بِأَنْ يَكُونُواْ مَعَ الْخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ﴾ [توبه: ۸۷]

**ژباړه:** *«(هو) دوی له کور ناستو ښځو سره په پاتې کېدو خوشحاله شول او پر زړونو یې [د خوف او نفاق] ټاپه ووهل شوه؛ نو ځکه دوی نه پوهېږي (چې د دنیا عزت او د اخرت سعادت په جهاد او د پیغمبر په پیروی کې دي)»*

د صهیونیستي رژیم الوتکې، ډرون، ټانکونه او نورې وسلې چې د امریکا، بریتانیې، فرانسې، المان، هند او د اسلام مخالفو نورو هیوادونو لخوا برابرېږي، پر مسلمانانو اورونه اوروي. نه روغتونونه په امن دي او نه ښوونځي. د کډوالو پر کمپونو هم بریدونه کوي. هیڅ شی له ویجاړې په امن نه دي او دا ویجاړې سړي، ښځې، ماشومان، سپین ږیري او ان ډبرې او ونې ورسره اخلي. سره له دې، د مسلمانانو پوځونه ننداري ته ناست دي؛ ته به وایې چې دا جنایتونه په یوه لرې کهکشان کې کېږي چې له موږ څخه ملیونونه نوري کاله واټن لري!

له بده مرغه، د خاینو چارواکو د ذلیلانه قوماندې ځنځیر نه ماتېږي او د جهاد د مکلفیت لپاره هیڅ اقدام نه کېږي؛ سره له دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ» (رواه الترمذي)

**ژباړه:** *د خالق په معصیت کې د مخلوق اطاعت نشته.*

او الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿إِلَّا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَاباً أَلِيماً وَيَسْتَبْدِلْ قَوْماً غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئاً وَاللهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ [توبه: ۳۹]

**ژباړه:** *«که ناسې (جهاد ته) و نه وځئ (نو الله) به دردناکه سزا درکړي او ستاسې پر ځای به بل قوم راولي او الله ته هېڅ زیان رسولی نشئ او الله پر هرڅه لاسبری دی»*

**اى د پاکستان وسله‌والو ځواکونو او اې مجاهدینو!**

که د دومره مسلمانانو پر ځای څو ژوي وژل شوي وای، د غرب منحرف نړیوال نظم به سخت غبرگون ښودلی و. خو دا چې د مسلمانانو رښتینی ملاتړی، یعنې راشده خلافت نشته، وینه یې ارزانه او بې ارزښته گڼل کېږي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«**إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ**» (مسلم)

**ژباړه:** *ښشکه چې امام ډال دی چې تر شا یې جگړه کېږي او هغه ته پناه وړل کېږي.*

**اې د مسلمانانو ځواکونو!**

د مسلمانانو د ځان مسولیت په ځانگړي ډول ستاسو پر غاړه دی! تاسو هغه خلک یئ چې د الله سبحانه و تعالی امر مو له پامه غورځولی او په غرب پورې تړلو رهبریو څخه د جهاد د امر په تمه یئ. له مکلفیت څخه ځان خلاصولو او تعلل څخه لاس واخلئ، د حزب التحریر ملاتړ وکړئ چې د نبوت پر منهج خلافت تاسیس کړي؛ ځکه چې همدا خلافت دی چې د امت ساتنه کوي او پوځونه د جهاد لپاره په حرکت راولي چې د فلسطین ټوله ځمکه ازاده کړي؛ ستاسو خلیفه به داسې کس وي چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې جهاد کې به ستاسو رهبري وکړي چې ان شاء الله د ازاد شوي مسجد الاقصی په میدانونو کې به د تکبیرونو ناري پورته کړئ.

**د حزب التحریر – ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۶هـ.ق، د صفر ۱۱مه**

**۲۰۲۴م، د اگېست ۱٦مه**

**د صدور گڼه: ۰۷/۱۴۴٦**